د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**علیم صدیق، د یوناما سرپرست ویاندوی**

**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د نفوسو د پانګي استازی، رامش پینومکا**

**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د ښځو د ودې د پانګي د پروګرام او عملیاتو کارپوه، ضیاد شیخ**

*کابل- ۲۰۰۸ کال د مارچ ۳*

**یوناما:** سهار مو پخیر او د یوناما د دوشنبي د ورځي خبري کنفرانس ته ښه راغلاست. زه د یوناما د ویندوي د دفتر څخه یم او نوم مي علیم صدیقي دی. نن سهار له موږ سره دوه تنه میلمانه ویندویان دي، چي یو یې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د ودي د پروګرام او بل یې د ملګرو ملتونو د نفوسو د وجهي صندوق پانګي مربوط دی له تاسو څخه ځیني ښایي ښه خبروي چي دغه راتلونکي شنبه د مارچ اتمه به ملګري ملتونه د ښځو نړیواله ورځ د افغانستان لپاره خاص اهمیت لري. سږ کال به ملګری ملتونه، دولت، مدني ټولنه او په سلګونو عادي افغان میرمني په ټول هیواد کي کنسرتونو، کنفرانسونو، تلویزیوني او رادیویي خپرونو څخه نیولي د ښځول لپاهر د وړیا خدمتونو تر برابرولو پوري یو لړ پیښي او فعالیتونه په دې څو راتلونکو اوونیو کي سمبالوي.

دلته په کابل کي به ملګري ملتونه په ښځینه بڼ یعني د ښځو په پارک یک یوه د ازادي هوا نمانځنه د راتلونکي جمعي په ورځ د مارچ په ۷ سرته ورسوي. موږ هیله من یو چي تاسي به وکولای شئ له موږ سره به دغه پیښه/محفل کي یو ځای شي او زه یوازي هومره وایم دغه پیښه د جمعي په ورځ د ښځو د ورځي د مخه واقع کیږي چي په دې توګه له دولتي رسمي پیښو د ټکر کولو مخنیوی شوي وي چي په دا بله ورځ شنبي باندي سرته رسیږي. نوموړی نمانځنه په یوه بجه پیل کیږي او تاسو ټولو ته بلنه در کول کیږي چي له موږ سره یو ځای شئ. آیا کولای شم یوازي یوه غوښتنه وکړم، او هغه دا چي که چیري تاسي واقعا له موره سره یو ځای کیږي، آیا د مهرباني له مخي کولای شئ چي کوښښ وکړئ، ښځینه خبریالاني د ښځو دغه پارک ته راواستوئ.
بخو له دي چي موقع میلمنو ویندویانو ته پریږدم، زه کولای شم یو څه خبري له تاسي سره د ملګرو ملتونو له نمایندګیو څخه زموږ د دې خبرو په ترځ کي شرکي کړم، د افغانستان د دولت، ایران او د ملګرو ملتونو د کډوالو د ایجنسی دوه ورځي د مخه دلته په کابل کي له ایران څخه افغانستان ته د کډوالو د خپلي خوښي په راستنیدلو باندې دوه ورځنی بحث پیل کړ.
د نن ورځي د دري اړخیز کمیسیون غونډه د افغانستان له خوا د کډوالو او راستنیدونکو د مرستیال وزیر ښاغلي عبدالقادر په مشری، د ایران له خوا د داخله وزارت د سلا کار او د پردیو او بهرنیو کډوالو د بیرو د عمومي آمر سید تقی فیمی پر مخ بیول کیږي. هغوي به ماسپښن په ۳:۳۰ بجو د بهرنیو چارو په وزارت کي یو رسنیز کنفرانس دایروي او یو د رسنیو مشوره ستاي لپاهر د دغه کنفرانس د تفصیلاتو په باب د اړخ پر میز باندې شتون لري.
آیا اوس کولای شم چي تاسي ته خپل میلمه ویندوي معرفی کړم چي نوموړی زیاد شیخ نومیږي چي نوموړی به پخوا له دې چي له یونیفیا څخه خپل همکار ته موقع ورکوم یو څو خبرې وکړي. وروسته له هغه پوښتنو ته ځوابونه وویل شي. له زیاد شیخ څخه مننه کوم چي له موږ سره یو ځای شو، او زیاد ته خبري پریږدم.

**د ملګرو ملتونو د ښځو د ودي د پانګي پروګرام:** سلام علیکم، سهار مو په خیر، یونیفیم له ټولو دولت، مدني ټولني او مرستندوې ټولني سره د یوه پرمختللي افغانستان او سوله ییز افغانستان په لور کار کوي چي هلته ښځي او نارینه له امنیت برابر حقونو او چانسونو څخه د ژوندانه په ټولو برخو کي برخمن واوسي. موږ د

جنسيت د تبليغاتو د داخلي او نړيوالي ټولني او مسسو يوه وده کوونکي ټولنه يو چي له دولت سره د عمومي پراختيا په اجنډا کي د ننه د جنسيت د برابرتيا په ښه کولو کي کار کوو.

زموږ پروګرام په دريو يو له بله پياوړي کوونکو برخو کي خپور دی، لکه د جنسيت عدالت، د ټولني پياوړي کول او اقتصادي پراختيا او د جنسيت د لوري ټاکلو لپاره موسسه ييز ظرفيت لوړول. زموږ مرام په افغانستان کي دا دی، چي د ښځو لپاره چانسونه زيات کړو څو هغوي وکولای شي د هيواد په پراختيا کي خپل بشپړ رول ولوبوي. موږ همدارنګه د افغان ميرمنو د اوږد مهاله مرام ملاتړ کوو چي هغوي په بشپړه توګه خپل حقوق وپيژني ځرنګه چي د ښځو په وړاندي د هر ډول توپير د له منځه وړلو په کنوانسيون کي ځای کړی شوی دي.

په افغانستان کي د ښځو خورا ستونزمن حالت لا يوه مرکزي انديښنه ده. لاکن په دغه محتوا کړي، د ښځو د انديښنو د ښه کيدلو چانسونه شته. د افغانستان د سولي او بيا ودانولو اجنډا د ښځو د حقونو د مرکزي انديښني په توګه به چوکاټ طرحه شوي ده. د ياد شوي کنوانسيون د تصويب او د اساسي قانون د هغو حکمونو په ترتيبولو سره چي د جنسيت په اساسي توپير نا قانونه ګڼي او د ښځو او نارينه وو تر منځ برابري تضمينوي، د جنسيت د پاليسی يو ټينګ چوکاټ منځ ته راغلي دی. نو له دي کبله د افغانستان د زريزې پراختيايي مرامونو د افغانستان تر ټرون لاندي يو شمير خاص د ښځو هدفونه په پام کي نيولی دی، حکومت يو شمير معيارونو ته ژمن دی.
د افغانستان د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان په ګډون چي هغه يو لس کلن پراختيايي پلان د ښځو لپاهر دی چي د يونيفيم په تخنيکي مرسته د دولت له خوا منځ ته راوړل شوی دی. په داسي حال کي چي د ښځو د دريځ بهتر کولو لپاره يو د پاليسي قوي چوکاټ لا پخپل ځای دی، د ټولو شاملو کسانو لا زياتو هڅو ته اړتيا ده چي هغه پلي کړي.
د دي لپاره چي حکومت کوی او سوله رامنځ ته کول جنسيتي وګرځول شي، يونيفيم د ښځينه سياسي مشرانو د ملاتړ لپاره خپل تخنيکي او د منابعو مرستي ته دوام ورکوي. عدالت ته د ښځو د لاس رسي د زياتولو لپاره موږ ښځو ته حقوقي مشوري او حقوقي مرسته ورکوو، په تيره بيا په کليوالی سيمو کي او همدارنګه د راجع کولو په مرکزونو کي د روزنه هم کارمندانو ته ورکول کيږي. او د ښځو پر ضد د تاوتريخوالی له منځه وړلو لپاره چي EVAW نوميږي، يونيفيم دغه ايواو کميسيون ته تخنيکي کار پوهنه په واک کي ورکوي، چي هغه د ولسمشر په فرمان جوړه شوی دی.
يونيفيم همدارنګه د ښځو لپاره د امنيت برابرولو لپاره او د سوداګرو په توګه د هغوي د حقونو او د کورنيو کار ګرو په حيث د ښځو د ودي مرکزونه د جوړولو د جنسيت نه په توجه سره پروژو د پلی کولو په لار کي کار کوي.

او په پای کي يونيفيم د ښځو د چارو له وزارت سره خپل ملاتړ ته دوام ورکوي او همدارنګه د ناب وا د نظارت ته چي د ښځو د حقونو لپاره او د افغانستان به بيا ودانولو کي د دولت لومړني اراده بلل کيږی. د ښځو

د نړیوالی ورځ نمانځل موږ ته د دغو ډولو موضوع گانو د رامنځ ته کولو موقع راکوي. موږ به پر ټول شریکانو، د رسنیو د شریکانو په گډون، غږ کوو چې دغه موضوع گانی د کال تر پایه پاتی شی.

**د ملگرو ملتونو د سازمان د وگړو پانگه:**

ملگرو سلام او سهار مو نیکمرغه. زه غواړم چې د ښځو د نړیوالي ورځې په مناسبت افغاني میرمنو، خویند، لونو او ټولو نارینه وو ته ډیر تاوده سلامونه او د ملگرو ملتونو د نفوسو د پانگي له خوا ځواکمن ژمنتوب اظهار کړم. دا موقع یوه ډیره ګټوره موقع ده چې مخ شاته وګورو او مخ په وړاندي هغه پرمختگونو ته وګورو چې موږ لاس ته راوړي دي، هغه ننگوني چې په مخ کي دي، موږ اوس څه کوو او څرنګه، څومره پر مخ راغلي یو چې لا نور هم باید ولاړ شو.

یونیفیم ددې موقع څخه په ګټه اخیستلو سره پخپل تعهد بیا ټینګار کوي، چې پر ښځو او نجونو باندې به پانګه اچوونه وکړي. څرنګه چې تاسي ټول پوهیږي پر ښځي باندي پانګه اچوونه پر ټولنه باندي پانګه اچوونه ده او همدارنګه په کلی او د ملت په جوړولو باندې. کومه ستره ننګونه چې د افغانستان ښځي ور سره مخا مخ دي، هغه مورنی روغتیا او د میندو د مړیني لوړه کچه ده. غواړم یو څو احصائي تاسو ته وړاندې کړم. په هرو سلو زرو میندو کي ۱،۶۰۰ یې د ماشوم زیږدولو پر مهال مري. دا په کال کي ۲۴۰۰۰ دی او دا شمیره د تاوتریخوالی په هغو په پیښو کي چې خلک په کي مري، ۲۵ ځلي زیاته ده. دم ګړۍ چې موږ خبرې کوو د افغانستان په ځینو برخو کي دوې تني ښځي د ماشوم او یا د امیندوارۍ د ستونزو له امله مري.

ولي دا شی پیښ کیږي؟ ولي ډیر افغاني میندی مري؟ ولي ۷۸ ٪ افغاني میندی مري، په داسي حال کي چې د مخنوی وړ دي؟ دا ځکه چې نجونو په تنکی عمر کي واده کیږي له نیمه یي زیات جنکی له ۱۸ کلنی نه مخکي عمر کي واده کیږي، ځیني خو آن په ۸ کلنی کي واده کیږي. هلته روغتیایي اسانتیاوي نشته او د پوهني نشتوال هم د دې لامل کیږي چې خلک میندي او په ځانګړی ډول خاوند خپلی ښځي روغتون ته ونه رسوي. هلته په کافی اندازه ماهره قابله ګاني نشته. همدارنګه په کافی اندازه د ولادي مراقبتونو مرکزونه او د ویني تسهیلات نشته. دا ننګوني دي، دا هغسي ننګوني دي چې موږ کولای شو له هغوي سره مقابله وکړو او دا په حقیقت کي هغه دنده چې حکومت د ملګرو ملتونو په مرسته ترسره کوي.

زه باید یادونه وکړم چې د تیرو پنځو کلونو په ترڅ کي زیات پرمختګ شوي. د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي د میندو د روغتیا اهمیت په ښه توګه درک کړي، دا ستراتیژي د میندو د روغتیا د ښه والی او د میندو د مړیني د کچي د راکمولو په برخه کي خورا مهم رول لوبوي. پدې اړه د عامه روغتیا وزارت د بیا زیږوني د روغتیا یوه پراخه ستراتیژي جوړه کړي. د ساحي په کچه نږدې ۱۶،۰۰۰ ټولنیز روغتیایي کارکوونکي کار کوي، او همدارنګه د هغو موسساتو په شمیر کي چې د ټولني کار کووکي روزني د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. نن ورځ د هیواد په کچه د روغتیا ۹۰ ٪ مرکزونه یوه ښځینه کارکوونکي، ډاکتره، نرسه یا قابله لري.

د بیلګي په ډول، په ۲۰۰۱ کال کي یوازې ۴ ٪ امیندوارو ښځو د امیندوارۍ په دوران کي هیڅ ډول پاملرنه نه تر لاسه کوله، خو تیر کال یوازې ۳۰ ٪ امیندوارو میندو یو ډول نه یو ډول پاملرنه د مسلکي روغتیایي کار کوونکو څخه تر لاسه کړه. په ۲۰۰۱ کال کي یوازې ۶ ٪ زیږدني د مهارت لرونکو کسانو په مرسته ترسره شوې خو دا رقم د تیر کال په اوږدو کي ۸۰ ٪ ته ورسید.

دا تر لاسه شوي پرمختګ د پام وړ پرمختګ دی خو کافي نه دي. دا حقیقت چې ٤٠٪ میندې د پاملرنې بیړنیو خدمتونو ته لاس رسي نلري، خو دا کیدای شي چې دا کار د نس د عملیاتو له لارې هم ترسره شي، یوازې ۸۰ ٪ ښځې د مهارت لرونکو کار کوونکو لخوا څخه د زیږوني خدمتونه تر لاسه کوي نو دا پدې مانا ده چې لا هم ډیره زیاته خلا موجوده ده.

دا پدې زمینه کې دی چې د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو پانګه د افغانستان د حکومت سره ژمنه ده او نورو شریکانو، غیر دولتي سازمانونو سره کار کوي ترڅو ډاډ حاصل کړي چې په هیواد کې د زیږولو پر مهال هیڅ یوه مور خپل ژوند له لاسه ور نکړي. دا هغه تصور دی چې موږ پر مخ بیایي. په داخلي کچه، موږ د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو، د عامې روغتیا د وزارت، د مذهبي چارو د وزارت سره له نږدې کار کوو ترڅو دا اجنډا پر مخ بوزو. د دې اجنډا پر مخ وړل به د میندو د مړینې کچه راټیټه کړي او د دوی روغتیا به ښه کړي.

د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو پانګه د نړیوال روغتیایي پروګرام او یونیسف سره د میندو د مړینې د کچې د راټیټولو او د عامې روغتیا د وزارت سره د بیا زیږوني د روغتیا په اړه او همدارنګه د بیړنی پاملرنې د عمل د یوه پلان، او د ولادت د چارو د مهارت لرونکو روزونکو ډاکټرانو او قابله ګانو د شمیر د زیاتوالی په هکله په یوه پروګرام کار کوي. موږ همدارنګه د حکومت سره د فیستلولا پرو لاپسي د درملنې په برخه کې چې د ښځو یوه ستره روغتیایي ستونزه ده مرسته کړې. موږ تمه لرو چې دا کار به مزار شریف او بدخشان ولایتونو ته پدې روان کال کې وغځوو.

په عین حال کې، موږ د بامیانو، بدخشان، فاریاب، لوګر او دایکندی په ولایتونو کې کار کوو او موږ په دغو ۵ ولایتونو کې نږدې ۲۶ ولسوالی تر خپل پوښښ لاندې نیولې. موږ هڅه کوو چې په ټولنو کې د ګډون یو ماډل جوړ کړو ترڅو تقاضا، پوهاوی رامنځ ته کړو. او همدارنګه د ګرځنده ټیمونو له لارې دغو خدمتونو ته ارتباط ورکړو او هم هڅه وکړو چې د بیړنی پاملرنې واحدونه پیاوړي کړو. دا کار به په ولایتي کچه د نږدې همکارۍ له طریقه د حکومت، نا دولتي سازمانونو او ټولنو سره، په ځانګړی ډول د ټولنو او مشرانو سره د چا ګډون چې پدې برخه کې د پام وړ دی، ترسره شي. موږ باید دې ستونزې ته په جدي توګه د حل لاره پیدا کړو. یونیفپا همدارنګه د نارینه وو او ځوانانو سره او په ځانګړی ډول د هغوي د پوهاوي په برخه کې له هغوي سره له نږدې همکاري کوي ځکه چې دا ډول ستونزې په خاص ډول هغه ستونزې چې د میندو د ورغتیا سره تړاو لري چې نشي کیدای د ښځو لخوا څخه ورته د حل لارې چارې پیدا شي، ځواب ووایي.

دا د میړونو، پلارونو، ورونو، رامنو او د هر چا دنده ده چې غواړي یو لړ هڅې لارې ته واچوي او وګوري چې هیڅ مور د ولادت پر مهال خپل ژوند له لاسه ور نکړ او دا چې هره مور خوشاله ژوند او له تولید څخه ډک ژوند پر مخ بوزي. موږ د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو او یونیفیم سره د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو لپاره له نږدې کار کوو. نږدې ۸۰ ٪ ښځې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د هغوي د ژوند پر مهال د یو ډول خشونت سره مخا مخ کیږي. دا زموږ ټولو په وړاندې یوه لویه ستونزه ده چې باید موږ نارینه ورسره مخامخ شو.

زه غواړم ددې فرصت په کارولو سره په هر یوه غږی، تمویل کوونکي نمایندګی او د ملګرو ملتونو په هره نمایندګی غږ وکړم ترڅو خپل ځانونه د میندو د مړيني او په هیواد کې د ښځو د وضعیت د ښه کولو لپاره وقف کړي. په پای کې زه ستاسو ټولو، خبریالانو څخه غوښتنه کوم چې خپل ځانونه د ښځو د اجندا د پرمختګ لپاره، نن او هره بله ورځ د خپل شغل په اوږدو کې وقف کړي، مننه.

**یوناما:** زه د خپلو ویناوالو څخه مننه کوم. موږ به اوس ستاسو پوښتونو ته ځواب ووایو. او د ښاغلي رامیش د یادوني په تاکید سره چې د جنسیت د برابروالی په چارو کې یې د نارینه وو رول ته اشاره وکړه، نو زه غواړم چې زموږ لومړنی پوښتنه زموږ د نارینه وو همکارانو په پوښتنه پیل شي. ښاغلیو لطفا شرم مه کوي.
ستاسو څخه مننه!

**د نور تلویزیون:** د روان کال لپاره ستاسو بودجه څومره ده؟ د ښځو په وړاندې د خشونت په هکهل تاسو څه اقداماتنیولي ترڅو ددي ستونزي مخنیوی وکړي او په پای کې، د میندو د مرګ د لوړي کچې تر شاه د فامیلي پلاننګ نشتوالی دی، نو تاسو پدې هکله څه کول غواړئ؟
**د ملګرو ملتونو د ښځو د ودې پانګه:** یونیفیم د ملګرو ملتونو د کورنی په منځ کې یو کوچنی فعال دی. د روان کال لپاره زموږ بودجه نږدې ۵ میلیونه امریکایي ډالره ده خو موږ د تمویل کوونکو ټولنو مخه پر زیاتیدونکي لیوالتیا وینو چې نن ورځ ښځې په هیواد کې د څه ډول مسایلو سره لاس او ګریوان دي. کله چې په هیواد کې زموږ دفتر په ۲۰۰۲ کال کې رامنځ ته شو، موږ تمه کوو چې په راتلونکو کلونو کې به زموږ په بودجه کې د پام وړ زیاتوالی راشي. زه باید ووایم چې زما همکارانو دی مسلي ته د مخه همه یادونه وکړه،د ملګرو ملتونو د سیستم په د ننه کې یو شمیر ګډ پروګرامونه موجود دي چې بیلا بیلي نمایندګی د یوه ګډ هدف د تر لاسه کولو لپاره په کار اچوي، او همدارنګه زما همکارانو لا د مخه د میندو د مرګ د ګډ پروګرام په هکله یادونه وکړه.
ستاسو د دومي پوښتني په اړه چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د مسلي په اړه ده باید ووایم چې دلته دوه شیان موجود دي چې زه یې غواړم یادونه وکړم. لومړی، باید د ستونزي څرنګوالی او اندازه د کومې سره چې موږ مخامخ یو په ښه توګه درک شي. موږ په ۲۰۰۶ کال کې یو اندازه څیړني ترسره کړي، روستني اطلاعات مو د لومړنیو سره یو ځای کړي، دا کار به زموږ سره د هیواد په کچه د ښځو په وړاندې د خشونت د کچې د اندازې د لګولو او د هغو خاصو بنو په هکله د یوه واقیعي انځو په پیدا کولو کې مرسته وکړي. موږ په یوناما او د افغانستان د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې د همکارانو سره د دې قضیو د احصایو په هکله کار کوو ترڅو موږ وکولای شو دا ستونزه نوره هم په ښه ډول تعریف کړو. د دې اطلاعاتو به درلودلو سره موږ کولای شو ووایو په کومو پالیسي ګانو کار وکړو ترڅو دا پیچلي او جدي ستونزه له منځه یوسو. زه باور لرم چې تاسو به پدې اتفاق ولرئ چې ددې ډول اطلاعاتو لاس ته راوړل په خپل ځای یو اسانه کار ندي.
د هغه دهمي مسلي په هکله چې باید زه یادونه وکړم هغه د ښځو په وړاندي د خشونت د له منځه وړلو په هکله د ځانګړی تمویل رامنځ ته کیدل دي.

د ملګرو ملتونو د سیستم په د ننه کې د نورو نمایندګیو د تمویل کوونکو ټولنو د غړیو او د ښځو د چارو د وزارت سره په شراکت یو نوښت لارې ته اچول شوی. د دې خاصې مالي مرستې اعلان به د مارچ د میاشتې په ۸ نېټه د یونیيم د سرچینو په مرکز په سیاست کې د ښځو لپاره وشي او زه تمه کوم چې ستاسو له جملې څخه به یو زیات شمیر کسان به پدې مراسمو کې ګډون وکړي.

**د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو پانګه:** زه غوام په دې اړه لیږ نور مختصر معلومات وړاندې کړم، دا رښتیا دي چې د کورنیو د غړیو شیمر غټ دی، په هیواد کې د منځنۍ کورنۍ شمیر ۶ کسان جوړوي. ښځې زر وادونه کوي او د اولادونو تر منځ واټن کم وي. موږ د افغانستان د حکومت سره پدې لګیا یو، چې د مخنوونکو تدبیرونو په کچه کې ښه والی راولي. نن ورځ په نږدې ۱۵ فیصدو درملو کې د شیوع مخنونکي استعمالیږي. موږ د اړونده وزارت سره پدې لګیا یو چې د بیا زیږدنې د روغتیایي درملو د عمل خوندي پلان جوړ کړو، چې په مرسته یې د ښه کیفیت لرونکو ټابلیټونو کوندم او د پیچکاریو جوړې شي. موږ همدارنګه د رابعه بلخي او ملالی په روغتونونو کې طبي کار کوونکو ته روزني ورکو. یو زیات شمیر روزل شوي کارکوونکي د سیمو او ولایتي روغتونونو کارکوونکي روزي. یو شمیر زیاتې هڅې لارې ته اچول شوي ترڅو د میره او ښځې ښه ساتنه وکړي. د ولادت تر منځ واټن باید ۲ یا ۳ کاله وي او دا د اهمیت وړ دی. اوس د هیواد په کچه ددې مقصد لپاره تدبیرونه موجود دي.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه غواړم د یو شی یادونه وکړم: موږ خپله پاملرنه او توجه پر سړو او مذهبي مشرانو متمرکزه کوو چې د دې جدی ستونزې په اړه جدي و اوسي. موږ د هیواد په کچه د مذهبي مشرانو لپاره یو ورکشاپ درلود، او قصد لرو چې د ولایتونو په سطحه د مذهبي او ټولنې له مشرانو سره ورته دیالوګ ولرو، ځکه دوي پوهاوي او خبرتیا ته اړتیا لري او تر ټول مهم یې دا چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی د بشري حقونو د اساساتو په وړاندې خشونت/تاوتریخوالی دی او د هر وګړي ګډون د ارزښت وړ دی. دوهم موږ په کابل کې یو مشورتي مرکز لرو، او په دې هڅه کې یو چې په نورو ولایتونو لکه هرات او بدخشان کې هم ورته مرکزونو پرانیزو چیرته چې میرمنې د ورته تاوتریخوالی قرباني دي، څو ښځې وکولای شي روغتیایي، رواني- ټولنیزو او داسې نورو مرستو ته لاس رسی ولري. دا ځینې هغه هڅې وي، چې د نورو همکارانو په ګډون په دې وروستیو کې ترسره شوي دي.

**یوناما:** زه کولای شم په دې اړوند څه نور اضافه کړم: موږ عادت لرو وګورو، چې تر اوسه څومره پیسې مصرف شوي، دولت او نړیوالي ټولنې څه کړي تر څو د جنسیت برابروالی تامین شي. هغه شی چې موږ و نه کولای شو درک کړو، هغه مهمه او ستره اغیزه ده چې موږ یې کولای شو پخپله په خپلو کورنیو او په پراخه کچه په ټولنو کې رامنځ ته کړو. نن کله چې موږ له دغه رسنیز کنفرانس له خونې څخه ووځو، موږ ټول باید چې د خپلو خویندو، میندو او لونو لپاره د جنسیت د برابروالی کې مهم رول ولوبوو، دا هغه مهمه او ستره اغیزې ده، چې کیدای شي په انفردي ډول جوړه او رامنځ ته شي. دا زموږ د ټولو یو ګډ مسوولیت دی، دا یوازې نه په دولت او نه هم په نړیوالې ټولنې پورې اړه لري، بلکې دا زموږ د ټولو فردي مسوولیت ګڼل کیږي.

**د آزادی راډیو:** ښاغلی علیم زما پوښتنه تاسی ته راجع کیږی. داسی رپورتونه شته چې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر افغانستان، هندوستان او متحده ایالات یې ګرم کړي چې دوي په قبایلی سیموکي د پاکستانی تروریستانی ملاتړ کوي. ستاسو څه خیال دي، آیا د افغانستان حکومت په قبایلی سیمو کې د تروریستانو ملاتړ کوي؟

**یوناما:** مونږ هر کله دا روښانه کړي چې د تروریزم او افراطیګري یو ګډه ستونزه ده چې د افغانستان او پاکستان وررور هیوادونه ورسره مخامخ دي. موږ دي ته اړتیا لرو تر څو ووینوچې د افغانستان و پاکستان حکومتونه په ګډه د دي پر ضد عمل وکړي تر څو دغه ګواښ چې دواړه هیوادونه ورسره مخامخ دي، له منځه ولاړ شي. ملامتول هیڅ ځاي نه نیسی. موږ دي ته اړتیا لرو تر څو ووینو چې دواړه هیوادونه ګډ غبرګون وښیی. موږ د داسی غبرګونونو شاهدان یو چې دواړه هیوادونه د افراطیت پر ضد چې د دواړو پولو د خلکو ژوند ته ګواښ کوي، تر سره شوي. خو موږ د نړیوالو په مرسته د دواړو خواوو څخه د لا زیات عمل تمه لرو. ملګري ملتونه هر کله دا خبره روښانه کړي چې د پوځی غبرګون سره په ګډه د پراختیایی کارونو تر سره کولو ته هم اړتیا شته چې د پولو دواړو خواوو خلکو ته سوله راولی. او اړتیا ده چې دا کار د لا زیات سیاسی درایت او کوښښونو سره ترسره شي تر څو خلک و هڅول شی چې خپله وسله پر ځمکه کیږدي او د سولی ګډی پروسی سره چې په دواړه هیوادونو کې ورځ په ورځ ټینګښت مومی، یو ځای شي.

**راهی نجات:** د نړیوالی ټولنی د ډیرو سترو کوښښونو سره سره چې د ښځو پر ضد د تشدد د له منځه وړلو لپاره تر سره شوي، خو احصاییې داسی ښیی چې تاوتریخوالی زیات شوي؟ تیر کال د ښځو د چارو وزارت د ښځو پر ضد د تاوتریخوالی د قضیو شمیر ۱۰۱۶ رپوټ ورکړی پداسی حال کې چې اوس د دغی قضیو شمیر ۲۳۳۰ ته رسیدلی، او له بلی خوا ځینی رپوټونه داسی ښیې چې د طالبانو له وخت څخه تاوتریخوالی زیات شوي؟ ستاسی نظر په دی هکله څه دي.

**د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو پانګه:** رپوټونه ښیی چې ګزارشونه زیات شوي. موږ اړتیا لرو چې د هغه څه چې پیښیږی او هغه څه چې رپوټ ورکول کیږی، تر منځ توپیر وکړو. په حقیقت کې ګزارشونه ښیی چې د ښځو توانمندی هم زیات شوی، چې رپوټ ورکړ شوي. په همدي ډول د قانون نافذ کوونکو تر منځ پوهاوی هم زیات شوي نو دا د تاوتریخوالی د جریان زیاتوالی نه دي، شاید دا کم شوي وی. خو کوم شی چې واقع کیږی هغه دا دي چې رپوټ ورکوونکی خلک زیات شوي، هیڅ څوک پدي هکله خبري نه کوي چې دا کله د کور په چار دیوالی واقع شوي. نن ورځ خلک او ښځي نه غواړی چې ودریږی او ووایی، بلی، زه به دا واخلم. نو زما په آند موږ اړتیا لرو چې د دی تر منځ چې په حقیقت کې تاوتریخوالی زیات شوي او که یوازی د پیښو رپوټ ورکول زیات شوي، تکفیک وکړو، نو هیڅ داسی شواهد نشته چې وویل شی چې تاوتریخوالی په عمومی ډول زیات شوي. دا همیش لوړ وو، او هیڅ څوک نه شی ویلای چې دا ټیټ وو. خو رپوټ ورکولو ته لیوالتیا په خپله دا ښیې چې پوهاوی زیات شوي او د ښځو توانمندی هم پیاوړی شوي. موږ باید دی ته له مثبت اړخ څخه وګورو.

**خپلواک ژورنالست:** د یونیفیم آستازی ته: زه هیله کوم چي تاسی په دوو اړخونو باندي تبصره وکړئ، یو یي په کابینه کي سیاسی استازی توب او همدارنګه په قضایی سکتور کي چي ځینی وختونه ښځینه قربانیانو سره لکه د جنایتکار په ډول چلند کوي، د مثال په ډول په بندی خانو کي چلند. ولی په دغه دوو اړخونو کی څه مهم پرمختګ ندی شوي چي یو یي سیاسی او بل یي قضایی عرصه ده. آیا تاسی داسی تمه لرئ چي تغیرات ولیدل شی؟

**د ملګرو ملتونو د ښځو د ودي د پانګي د پروګرام:** زما په آند، څرنګه چي زما همکار واضح کړ، موږ په تیرو څو کلونو کي ستر ګامونه مخ په وړاندی پورته کړي، د ښځو لپاره ټاکلی حد، په پارلمان کي استازی توب، په تصمیم اخیستلو کي یو ستر موقف. خو لا هم ډیره لاره پر مخ پرته ده. کومه مسله ته چي تاسی اشاره وکړه هغه یوازی د ښځو مسله نه ده، دا په افغانستان د ژوندانه د ټولو اړخونو یوه مشخصه ده. زما په آند کوم شی چي موږ د ملګرو ملتونو او د یو نړیوال همکار په ډول د حکومت سره یو ځای ورته اړتیا لرو هغه دا دي چي خپله ونډه د قانون په سیستم کي پیاوړی کړو، د بشری حقونو د کنوانسیون په هکله خپله پوهه لوړه کړو، او کله چي موږ یو فعال چوکاټ ولرو، اړتیا ده چي زموږ کوښښونه، د هغو په پلی کولو او هغو ته حقیقی بڼه ورکولو کي، په کافی اندازه زیات شی.

**یوناما:** د جنسیت برابروالی د پراختیا په حال کي ده، یو انقلاب نه دی. مهم شی دا دی چي په شمالی امریکا او اروپا کي څو لسیزی احتوا کړ تر څو د جنسیت برابری تر لاسه شو. راشی افغانستان د نا عادلانه معیارونو سره مقایسه نکړو. موږ دلته د جګړی څخه وروسته نوي یو چي پنځه او یا شپږ کاله کیږی، او که موږ غواړو په دغه هیواد کي د جنسیت برابریووینو، نو اړتیا لرو چي په حوصله او زغم سره پرمختګ وکړو، اړتیا نشته چي انقلاب ووینو ځکه انقلابونه پایښت نه لري. موږ د بدلون کلتور ته اړتیا لرو. موږ اړتیا لرو چي د خلکو په افکار کي بدلون راولو او دا ډیره ورو پروسه غواړی او په یوه شپه نه تر لاسه کیږی.
خو په تیرو شپږو او یا اوو کلونو کي موږ د افغانستان د حکومت له خوا ستر کوښښونه لیدلی، د نړیوالی ټولنی له خوا دغه بدلون د قانون د حاکمیت، قضایی، پولیس او بندیخانو په سیستمونو کي د بشری حقونو د روزنی له لاری منځته راغلی. خو موږ ټول دا تاییدوو چي زموږ لپاره نور ډیر کار شته چي باید تر سره کړو. پرمختګ روان دي، خو له بده مرغه پرمختګ په یوه شپه نه تر لاسه کیږی. پرمختګ ورو او په حوصله سره تر سره کیږی او وخت به ونیسی.

ستاسو څخه مننه.